# د قدر د شپو علمونه او دعاګاني

ژباړه: عبدالرحيم درانی

Download from:aghalibrary.com

## نولسمه شپه

او دا د قدر د شپو لومړۍ شپه ده او د قدر شپه هغه ده چې یوه شپه هم په فضیلت کې هغې ته نه شي رسیدلی او په دغو شپو کې هر عمل او عبادت د زرو شپو له عمله غوره دی او په دې کې د ټول کال تقدیر لیکل کیږي او په دې کې دخدای په امر فرښتې او او جبراییل نازلیږي او د زماني امام ته ورځي او هغه ته د هر یو کس تقدیر وړاندې کوي.

د قدر د شپې عملونه په دوه ډوله دي: یو ډول یې عام دي چې د قدر په ټولو شپو کې ادا کیږي او بل قسم یې مخصوص دي چې له هرې شپې سره خاص دي او په ه غه شپه کې کیږي.

**لومړي ډول: یو شمیر عملونه دی**

**اول:** لامبل دي، علامه مجلسي وایي غوره ده چې د لمر د پریواته په وخت ولامبي چې د ماسختن د لمانځه لپاره غسل شي[1].

**دوهم:** دوه رکعته لمونځ دی په هر رکعت کې له حمده وروسته اوه ځله توحید سوره او د لمانځه له فراغته وروسته اویا ځله استغفر الله ربی و اتوب الیه ویل دی. او په حدیث نبوي کې راغلي دي: چا چې

---

(۱) زاد المعاد: ۱۸۵.

دا کار و کړ له خپل ځایه به ونه خوځیږي مګر دا چې خدای هغه او مور او پلار یې وبخښي [٢].

**دریم:** دقرآن په لاس کې اخستل او پرانستل یې او د دواړو لاسو په مینځ کې دې ونیسي او ودې وایي: اَللّـهُمَّ اِنّي اَسْاَلُكَ بِكِتابِكَ وَما فيهِ وَفيهِ اسْمُكَ الأَكْبَرُ وَاَسْماؤُكَ الْحُسْنى، وَما يُخافُ وَيُرْجى اَنْ تَجْعَلَني مِنْ عُتَقائِكَ مِنَ النّارِ وتدعو بما بدالك من حاجة [٣].

**څلورم:** قرآن دې په سر ونیسي ا و ودې وایي:: اَللّـهُمَّ بِحَقِّ هذَا الْقُرْآنِ، وَبِحَقِّ مَنْ اَرْسَلْتَهُ بِهِ، وَبِحَقِّ كُلِّ مُؤْمِن مَدَحْتَهُ فيهِ، وَبِحَقِّكَ عَلَيْهِمْ، فَلا اَحَدَ اَعْرَفُ بِحَقِّكَ مِنْكَ، بیا دې لس ځله وایي: بِكَ يااَللهُ، او لس ځله: بِمُحَمَّد، او لس ځله: بِعَلِيٍّ، او لس ځله: بِفاطِمَةَ، او لس ځله: بِالْحَسَنِ، او لس ځله: بِالْحُسَيْنِ، او لس ځله: بِعَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ، او لس ځله: بِمُحَمَّد، بْنِ عَلِيٍّ او لس ځله: بِجَعْفَرِ، بْنِ مُحَمَّد او لس ځله:بِمُوسَى، بْنِ جعْفَر او لس ځله: بِعَلِيِّ بْنِ مُوسى، او لس ځله: بِمُحَمَّد بْنِ عَلِيٍّ، او لس ځله: بِعَلِيِّ بْنِ مُحَمَّد، او لس ځله: بِالْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ، او لس ځله: بِالْحُجَّةِ، وتسأل حاجتك [٤]

**پینځم:** د امام حسین علیه السلام زیارت کول، په حدیث کې راغلې دي چې کله د قدر شپه شي له اسمانه یو منادي غږ کوي د عرش له

(٢) زاد المعاد: ١٨٥.

(٣) اقبال الأعمال ١: ٣٤٦ باب ٢٣.

(٤) اقبال الأعمال ١: ٣٤٦ باب ٢٣.

اومې پوړۍ: خدای پاک وبخښل هغه کسان چې د امام حسين د قبر زيارت وکړي[٥].

**شپږم:** د دغه دريو شپو روښول دي په حديث کې راغلي دي چې: چا چې د قدر شپه روښه کړه خدای تعالى يې ګناهاني بخښي که څه هم شمير يې د اسمان دستورو د غرونو د درونوالي او د سمندرونو هومره وي [٦].

اوم: سل رکعته لمونځ دی  چې ډير زيات فضيلت لري او بهتره ده چې په هر رکعت کې دحمد له سورې وروسته لس ځل سوره توحيد ووايي [٧].

**اتم:** ودې وايي: اَللّـهُمَّ اِنّي اَمْسَيْتُ لَكَ عَبْداً داخِراً لا اَمْلِكُ لِنَفْسي نَفْعاً وَلا ضَرّاً، وَلا اَصْرِفُ عَنْها سُوءاً، اَشْهَدُ بِذلِكَ عَلى نَفْسي، وَاَعْتَرِفُ لَكَ بِضَعْفِ قُوَّتي، وَقِلَّةِ حيلَتي، فَصَلِّ عَلى مُحَمَّد وَآلِ مُحَمَّد، وَاَنْجِزْ لي ما وَعَدْتَني وَجَميعَ الْمُؤْمِنينَ وَالْمُؤْمِناتِ مِنَ الْمَغْفِرَةِ في هذِهِ اللَّيْلَةِ، وَاَتْمِمْ عَلَيَّ ما آتَيْتَني فَاِنّي عَبْدُكَ الْمِسْكينُ الْمُسْتَكينُ الضَّعيفُ الْفَقيرُ الْمَهينُ، اَللّـهُمَّ لا تَجْعَلْني ناسِياً لِذِكْرِكَ فيـما اَوْلَيْتَني، وَلا لاِحْسانِكَ فيـما اَعْطَيْتَني، وَلا آيِساً مِنْ اِجابَتِكَ وَاِنْ اَبْطَأَتْ عَنّي، في سَرّاءَ اَوْ ضَرّاءَ،

---

(٥) تهذيب الأحكام، الشيخ الطوسي ٦: ٤٩ح١١١، عن الإمام الصادق×.

(٦) زاد المعاد: ١٨٥.

(٧) اقبال الأعمال ١: ٣١٣ باب ٢٣.

اَوْ شِدَّة اَوْ رَخاء، اَوْ عافِيَة اَوْ بَلاء، اَوْ بُؤْس اَوْ نَعْماءَ اِنَّكَ سَميعُ الدُّعاءِ[٨].

او كفعمي دا دعا روايت كړې له امام زين العابدين عليه السلامه چې په دې شپې كې به يې دا دعا لوستله په ولاړه په ناسته په ركوع او په سجده كې[٩]

او علامه مجلسي ويلي دي چې په دې شپو كې غوره عمل استغفار دى او دعا ده د دنياوي او اخري چارو لپاره او د ځان او مور او پلار او خپلوانو او مومنو وورڼو لپاره كه ژوندي وي او كه مړه. او ذكر او درود په محمد او آل محمد چې څومره كوى شي او په ځينو حديثونو كې راغلي دي چې په دغو د ريو شپو كې د جوشن كبير دعا لوستل هم مستحب دي.[١٠]

مونږ ته ه دهغه څه په باره كې چې تير شول دعا رارسيدلي ده. او روايت شوى چې رسول الله مبارك ته وويل شول: كه په تاسو د قدر شپه راغله نو له خدايه به د څه دعا كوئ؟ هغه حضرت وفرمايل: العافيه (سلامتيا) [١١].

---

(٨) اقبال الأعمال ١: ٣٤٨ باب ٢٣.

(٩) البلد الأمين: ٢٠٣.

(١٠) زاد المعاد: ١٨٦.

(١١) مستدرك الوسائل ٧: ٤٥٨ رقم ٨٦٥٤ من كتاب لب اللباب (مخطوط).

**( دوهم ډول) يعني هغه دعاګانې د چې د قدر له هرې شپې سره مخصوصې دي. او هغه په دې ډول دي:**

## نولسمه شپه

او په دې کې يو شمير عملونه مستحب دي:

**لومړی:** دا چې سل ځله ووايه استغفر الله و اتوب اليه(۱۲).

**دوهم:** سله ځله: اَللّـهُمَّ الْعَنْ قَتَلَةَ اَميرِ الْمُؤمِنينَ (۱۳).

**دريم:** دا دعا يا ذَا الَّذي كانَ قَبْلَ كُلِّ شَيء، ثُمَّ خَلَقَ كُلَّ شَيء، ثُمَّ يَبْقى وَيَفْنى كُلُّ شَيء، يا ذَا الَّذي لَيْسَ كَمِثْلِه شَيءٌ، وَيا ذَا الَّذي لَيْسَ فِي السَّماواتِ الْعُلى، وَلا فِي الأَرَضينَ السُّفْلى، وَلا فَوقَهُنَّ وَلا تَحْتَهُنَّ، وَلا بَيْنَهُنَّ الـهٌ يُعْبَدُ غَيْرُه، لَكَ الْحَمْدُ حَمْداً لا يَقْوى عَلى اِحْصائِه إلاّ اَنْتَ، فَصَلِّ عَلى مُحَمَّد، وَآلِ مُحَمَّد صَلاةً لا يَقْوى عَلى اِحْصائِها إلاّ اَنْتَ.

**څلورم:** ودې وايي: اَللّـهُمَّ اجْعَلْ فيـما تَقْضي وَتُقَدِّرُ مِنَ الأَمْرِ الْمَحْتُومِ، وَفيـما تَفْرُقُ مِنَ الأَمْرِ الْحَكيمِ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ، وَفِي الْقَضاءِ الَّذي لا يُرَدُّ وَلا يُبَدَّلُ، اَنْ تَكْتُبَني مِنْ حُجّاجِ بَيْتِكَ الْحَرامِ، الْمَبْرُورِ حَجُّهُمُ، الْمَشْكُورِ سَعْيُهُمْ، الْمَغْفُورِ ذُنُوبُهُمُ الْمُكَفَّرِ عَنْهُمْ سَيِّئاتُهُمْ وَاجْعَلْ فيـما تَقْضي

(۱۲) اقبال الأعمال ۱: ۳۱۲ باب ۲۳.

(۱۳) اقبال الأعمال ۱: ۳۴۴ باب ۲۳.

وَتُقَدِّرُ اَنْ تُطيلَ عُمْري وَتُوَسِّعَ عَلَيَّ في رِزْقي، وَتَفْعَلَ بي كَذا وَكَذا ويسأل حاجته عوض هذه الكلمة[١٤].

## یوویشتمه شپه

د دې فضیلت تر نولسمې شپې زیات دی او ښه ده چې په دې شپه د قدر د ټولو شپو عام اعمال وکړی شي لکه لامبل، د شپې روڼول، او د امام حسین زیارت او هغه لمونځ چې توحید سوره پکې اوه ځله ویل کیږي او په سر د قرآن نیول او د جوشن کبیر دعا لوستل، او داسې نور، او په حدیثونو کې تاکید شوی په مستحبوالي د لامبلو، د شپې په روڼولو او په دې شپه او درې ویشتمه شپه د ډیر عبادت او ویل شوې چې د قدر شپه له دغو دوو یوه ده. او له معصومه د قدر د شپې په هکله په ډیرو حدیثونو کې پوښتنه شوې چې په دغو دوو کې کومه یوه شپه ده؟ نو هغوی په ګوته نه کړه او وې فرمایل: په دغو دوو کې چې کومه شپه هم په لاس راغله.

او وې فرمایل: بهتره ده چې په دغو دوو شپو کې ښه اعمال ترسره شي» او داسې نور حدیثونه[١٥]، او شیخ صدوق په یو محفل کې چې د امامیه مذهب له عالمانو ډک و ویلي چې: او چا چې د دوه شپې د عمل په خبرو تیرې کړې نو هغه افضل کار دی او ودې وایي په دغه شپه د دې میاشتې د اخري لسو ورځو دعا چې یوه یې دا دعا

(١٤) اقبال الأعمال ١: ٣٤٨ باب ٢٣.

(١٥) اقبال الأعمال ١: ٣٥٦ باب ٢٥.

ده او له کليني په اصول کافي کې له امام صادقه عليه السلامه روايت شوی دی چې وې ويل: د روژې د مياشتې په اخري لسو شپو کې هره شپه دا دعا ووايې: اَعُوذُ بِجَلالِ وَجْهِكَ الْكَرِيمِ أنْ يَنْقضيَ عَنّي شَهْرُ رَمَضانَ اَوْ يَطْلُعَ الْفَجْرُ مِنْ لَيْلَتي هذِهِ وَلَكَ قِبلي ذَنْبٌ اَوْ تَبِعَةٌ تُعَذِّبُني عَلَيْهِ(١٦).

او کفعمي د البدالامين کتاب په پايښوړ کې روايت کړی چې امام صادق عليه السلام به د روژې د وروستيو لسو شپو په هره شپه د فرايضو او نوافلو نه وروسته ويل: اَللّـهُمَّ اَدِّ عَنّا حَقَّ ما مَضى مِنْ شَهْرِ رَمَضانَ، وَاغْفِرْ لَنا تَقْصيرَنا فيهِ، وَتَسَلَّمْهُ مِنّا مَقْبُولاً وَلا تُؤاخِذْنا بِاِسْرافِنا عَلى اَنْفُسِنا، وَاجْعَلْنا مِنَ الْمَرْحُومينَ وَلا تَجْعَلْنا مِنَ الْمَحْرُومينَ(١٧)

او وې ويل چا چې دا دعا ولوستله خدای تعالی به يې په دې مياشتې کې چې کومې ګناهانې کړي هغه وبخښي او په پاتې ورځو کې به يې له ګناه وساتي.

او يوه هغه دعا ده چې السيدابن طاووس له ابی عميره په الاقبال کې نقل کړې ده چې هغه له مزارمه ويلې دي امام صادق عليه السلام به د روژې د وروستيو لسو شپو په هره شپه ويل: اَللّـهُمَّ اِنَّكَ قُلْتَ في كِتابِكَ الْمُنْزَلِ: {شَهْرُ رَمَضانَ الَّذي اُنْزِلَ فيهِ الْقُرْآنُ هُدىً لِلنّاسِ وَبَيِّنات مِنَ الْهُدى وَالْفُرْقانِ} فَعَظَّمْتَ حُرْمَةَ شَهْرِ رَمَضانَ بِما اَنْزَلْتَ

(١٦) الكافی ٤: ١٦٠ ح١.

(١٧) حاشية مصباح الكفعمي: ٥٨٢ فصل: ٤٥.

فيه منَ الْقُرآنِ، وَخَصصْتَهُ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ وَجعَلْتَها خَيْراً منْ اَلْف شَهْر، اَللّـهُمَّ وَهذه اَيّامُ شَهْرِ رَمَضانَ قَد انْقَضَتْ، ولَياليه قَدْ تَصرّمَتْ، وَقَدْ صِرْتُ يا الـهي منْهُ الى ما اَنْتَ اَعْلَمُ بِه منّي وَاَحصى لعَدَده منَ الْخَلْقِ اَجْمعينَ، فَاَسْأَلُكَ بِما سَأَلك بِه مَلائكَتُكَ الْمُقَرَّبُونَ وَاَنْبِياؤُكَ الْمُرسَلُونَ، وَعبادُكَ الصّالحُونَ، اَنْ تُصَلِّيَ عَلى مُحَمَّد وَآلِ مُحمَّد وَأنَ تَفُكَّ رَقَبَتي منَ النّارِ، وَتُدْخلَنى الْجَنَّةَ بِرحْمَتكَ، وَاَنْ تَتَفَضَّلَ عَليّ بِعَفْوِكَ وَكَرَمِكَ و تَتَقبّل تَقَربي و تَسْتَجيبَ دُعائي وتَمُنَّ عَليّ بالأمن يوم الخوف منْ كُلِّ هَوْل اَعْدَدْتَهُ ليَومِ الْقيامَة، الـهي وَاَعُوذُ بِوَجْهِكَ الْكَريمِ، وَبِجَلالكَ الْعَظيمِ اَنْ تنْقَضيَ اَيّامُ شهْرِ رَمَضانَ وَلَياليه وَلكَ قبَلي تَبِعَةٌ اَوْ ذَنْبٌ تُؤاخذُني بِهِ اَوْ خَطيئَةٌ تُريدُ اَنْ تَقْتَصَّهَا منّي لَمْ تَغْفرها لي، سَيدي سَيِّدي سَيدي أسأَلُك يا لا الـهَ إلاّ اَنْتَ اذْ لا الـهَ إلاّ اَنْتَ، انْ كُنْتَ رَضَيْتَ عَني في هذَا الشَّهْرِ فَاْزدَدْ عَنّي رِضاً، وَانَْ لَمْ تكُن رَضَيْتَ عنِّي فَمنَ الآنَ فَارْضَ عَنّي يا اَرْحَمَ الرّاحمينَ، يا اَللّهُ يا اَحدُ يا صَمدُ يا مَنْ لَمْ يَلدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُواً اَحَدٌ، (او ډيرو ورسره دا هم ويلي ) يا مُلَيِّنَ الْحَديد لداوُدَ، يا كاشفَ الضّرِ والكُرَبِ العظام عَن ايّوب، اَي مُفَرِجَ هَمِّ يَعْقُوبَ، اَيْ مُنَفِّسَ غَمِّ يُوسُفَ×، صَلِّ عَلى مُحَمّد وَآلِ مُحَمَّد كَما اَنْتَ أَهْلهُ اَنْ تُصَلِّيَ عَلَيهِمْ اَجْمَعينَ، وَافْعَلْ بي ما اَنْتَ اَهْلُهُ وَلا تَفْعَلْ بي ما اَنَا اَهْلُهُ(١٨).

---

(١٨) اقبال الأعمال ١: ٣٦٤ باب ٢٥.

او بل هغه روايت دی چې په کافي کې په مسند او په مقنعه او مصباح کې په مرسل ډول راغلی دی چې وايي:د دغو لسو شپو په اوله کې يعني په يوويشتمه شپه دې ووايي: يا مُولِجَ اللَّيْلِ فِي النَّهارِ، وَمُولِجَ النَّهارِ فِي اللَّيْلِ، وَمُخْرِجَ الْحَيِّ مِنَ الْمَيِّتِ، وَمُخْرِجَ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ، يا رازِقَ مَنْ يَشاءُ بِغَيْرِ حِساب، يا اَللهُ يا رَحْمنُ، يا اَللهُ يا رَحِيمُ، يا اَللهُ يا اَللهُ يا اَللهُ لَكَ الأَسْماءُ الْحُسْنى، وَالأَمْثالُ الْعُلْيا، وَالْكِبْرِياءُ وَالآلاءُ، اَسْاَلُكَ اَنْ تُصَلِّيَ عَلى مُحَمَّد وَآلِ مُحَمَّد، وَاَنْ تَجْعَلَ اسْمِي فِي هذِهِ اللَّيْلَةِ فِي السُّعَداءِ، وَرُوحِي مَعَ الشُّهَداءِ، وَاِحْسانِي فِي عِلِّيِّينَ، وَاِساءَتِي مَغْفُورَةً، وَاَنْ تَهَبَ لِي يَقِيناً تُباشِرُ بِهِ قَلْبِي، وَاِيماناً يُذْهِبُ الشَّكَّ عَنِّي، وَتُرْضِيَنِي بِما قَسَمْتَ لِي، وَآتِنا فِي الدُّنْيا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنا عَذابَ النّارِ الْحَرِيقِ، وَارْزُقْنِي فِيها ذِكْرَكَ وَشُكْرَكَ، وَالرَّغْبَةَ اِلَيْكَ وَالإِنابَةَ وَالتَّوْفِيقَ لِما وَفَّقْتَ لَهُ مُحَمَّداً وَآلَ مُحَمَّداً عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمُ السَّلامُ[١٩].

او كفعمي له السيد ابن باقي روايت کړی دی چې په يوويشتمه شپه دې ووايي: اَللّـهُمَّ صَلِّ عَلى مُحَمَّد، وَآلِ مُحَمَّد وَاقْسِمْ لِي حِلْماً يَسُدُّ عَنّي بابَ الْجَهْلِ، وَهُدىً تَمُنُّ بِهِ عَلَيَّ مِنْ كُلِّ ضَلالَة، وَغِنىً تَسُدُّ بِهِ عَنّي بابَ كُلِّ فَقْر، وَقُوَّةً تَرُدُّ بِها عَنّي كُلَّ ضَعْف، وَعِزّاً تُكْرِمُني بِهِ عَنْ كُلِّ ذُلٍّ، وَرِفْعَةً تَرْفَعُني بِها عَنْ كُلِّ ضَعَة، وَاَمْناً تَرُدُّ بِهِ عَنّي كُلَّ خَوْف، وَعافِيَةً تَسْتُرُني بِها عَنْ كُلِّ بَلاء، وَعِلْماً تَفْتَحُ لي بِهِ كُلَّ يَقين، وَيَقيناً

(١٩) الكافي ٤: ١٦٠، مصباح الكفعمي: ٥٨٢.

تُذْهِبُ بِهِ عَنّي كُلَّ شَكٍّ، وَدُعاءً تَبْسُطُ لي بِهِ الإِجابَةَ في هذه اللَّيْلَة، وَفي هذه السّاعَة، السّاعَةَ السّاعَةَ السّاعَةَ يا كَريمُ، وَخَوْفاً تَنْشُرُ لي بِهِ كُلَّ رَحْمَة، وَعِصْمَةً تَحُولُ بِها بَيْني وَبَيْنَ الذُّنُوبِ، حَتّى اُفْلِحَ بِها عِنْدَ الْمَعْصُومينَ عِنْدَكَ، بِرَحْمَتِكَ يا اَرْحَمَ الرّاحِمينَ.

او له حماد بن عثمانه روايت شوى چې وې ويل:امام صادق عليه اسلام ته د روژې په يوويشتمه شپه ورغلم نو راته يې وويل: اى حماده لامبلې دې دي. ومې ويل: هوله تا قربان شم، بيا يې وويل نو د پوزي لپاسه يې دعا وكړه بيا يې وويل ماته رانزدې شه،نو لمونځ يې پيل كړ او ما هم ورسره ښنګ په ښنګ لمونځ پيل كړ حتى چې له ټولو لمونځونو فارغ شو او بيا يې دعا پيل كړه او زه هم ورسره په دعا كې وم، تر دې چې سهر شو، نو اذان او اقامت يې وكړ او دعا يې وكړه نو مونږ هم په هغوي پسې شاته ودريدو نو لمونځ يې وكړ په اول ركعت كې يې حمد سوره ولوستله او بيا انا انزلنه فى ليلة القدر او په دوهم ركعت كې يې له سوره حمد وروسته قل هو الله سوره ولوسته نو كله چې مونږ د خداى له تسبيح او تحميد، ثنا او تقديس او په رسول الله مبارک له درود او د ټولو مومنانو سړو او ښځو او ټولو مسلمانو سړو او ښځو لپاره له دعا فارغ شو نو هغه حضرت په سجدې پريوته او مونږ يې تر ډيره وخته دهغوى له ساګانو پرته بل څه نه اوريدل بيامو واوريدل چې وې ويل: لا الـهَ إلاّ اَنْتَ مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ وَالأَبْصارِ،د دې دعا تر آخره پورې، دا رِوايت په اقبال كې راغلى دى. او كليني روايت كړى دى چې كله به د قدر يوويشتمه او

درې ويشتمه شپه وه نو امام باقر عليه السلام به دعا کوله تر دې چې شپه به تيره شوه نو چې شپه به تيره شوه لمونځ به يې وکړ او روايت شوی دی  چې رسول الله مبارک به د ورستيو لسو شپو په هره شپه لامبل، او په دغو لسو شپو کې اعتکاف مستحب دی او ډير فضيلت لري او دا داعتکاف لپاره ډيرې فضيلت لرونکې شپې دي. او روايت دی چې دا له دوو حجونو او دوو عمرو سره برابر دی. رسول الله مبارک به د روژې په اخري لسو شپو کې په جومات کې اعتکاف کاوه او دهغه حضرت لپاره به يې يوه بيله کوټګۍ جوړوله  او پوه شه چې دا هغه شپه ده چې د آل محمد غمونه پکې تازه کيږي. په دې شپه کې د هجرت په  څلويښتم کال د مولا امير المومنين عليه اسلام شهادت واقع شوی او او روايت شوی چې په دې شپه کې چې هر کاڼي او چتوې لاندې يې تازه وينه راوځي لکه څنګه چې د امام حسين د شهات په شپه دغه کار کيږي، او مفيد ويلي دي:غوره ده چې په دې شپه کې پر محمد او آل محمد درود وويل شي او په هغوی په ظلم کوونکو لعنت وکړی شي او د امير المومنين په قاتل لعنت واستل شي.

## ( درې ويشتمه شپه)

دا له تيرو دوو شپو زيات فضيل لري او له ډيرو حديثونو معلوميږي چې همدا د قدر شپه ده، او په دې کې د هر څه تقدير او برخليک

ليكل كيږي. او دا شپه د قدر د شپو پر عامو اعمالو سربيره ځانته خاص اعمال لري

**اول:** د عنكبوت او روم سورې لوستل، امام صادق عليه السلام فرمايي: چاچې په دغه شپه كې دا دوه سورتونه تلاوت كړل جنتي به وى [۲۰].

**دوهم:** د حم الدخان سورې لوستل [۲۱].

**دريم:** زر ځله د قدر سورې لوستل [۲۲]

**څلورم:** په دې شپه بلكې په هر وخت كې دې دا دعا وايي: اَللّـهُمَّ كُنْ لِوَلِيِّكَ فلان بن فلان او ودې وايي د فلان بن فلان په ځاى الْحُجَّة بْنِ الْحَسَنِ صَلَواتُكَ عَلَيْهِ وَعَلى آبائِه فِي هذه السَّاعَة وَفِي كُلِّ ساعَة وَلِيّاً وَحافِظاً وَقائِداً وَناصِراً وَدَلِيلاً وَعَيْناً حَتّى تُسْكِنَهُ اَرْضَكَ طَوْعاً وَتُمَتِّعَهُ فِيها طَوِيلاً.

**پينځم:** ودې وايي: اَللّـهُمَّ امْدُدْ لِي فِي عُمْرِي، وَاَوْسِعْ لِي فِي رِزْقِي، وَاَصِحَّ لِي جِسْمِي، وَبَلِّغْنِي اَمَلِي، وَاِنْ كُنْتُ مِنَ الاَشْقِياءِ فَامْحُنِي مِنَ الاَشْقِياءِ، وَاكْتُبْنِي مِنَ السُّعَداءِ، فَاِنَّكَ قُلْتَ فِي كِتابِكَ الْمُنْزَلِ عَلى نَبِيِّكَ الْمُرْسَلِ صَلَواتُكَ عَلَيْهِ وَآلِهِ: {يَمْحُوا اللهُ ما يَشاءُ وَيُثْبِتُ وَعِنْدَهُ اُمُّ الْكِتابِ}.

(۲۰) اقبال الأعمال ۱: ۳۸۱ باب ۲۷.

(۲۱) اقبال الأعمال ۱: ۳۸٦ باب ۲۷.

(۲۲) اقبال الأعمال ۱: ۳۷۹ باب ۲۷.

**شپږم:** دا دعا دې وايي: َللّـهُمَّ اجْعَلْ فيـما تَقْضي وَفيـما تُقَدِّرُ مِنَ الاَمْرِ المحْتُومِ، وَفيـما تَفْرُقُ مِنَ الاَمْرِ الْحَكيمِ في لَيْلَةِ الْقَدْرِ، مِنَ الْقَضاءِ الَّذي لا يُردُّ وَلا يُبَدَّلُ اَنْ تَكْتُبَني مِنْ حُجّاجِ بَيْتِكَ الْحَرامِ في عامي هذا، الْمَبْرُورِ حَجُّهُمْ الْمَشْكُورِ سَعْيُهُمْ، الْمَغْفُورِ ذُنُوبُهُمْ، الْمُكَفَّرِ عَنْهُمْ سَيِّئاتُهُمْ، وَاجْعَلْ فيـما تَقْضي وَتُقَدِّرُ اَنْ تُطيلَ عُمْري وَتُوَسِّعَ لي في رِزْقي (۲۳).

**اوم:** دا دعا دې چې په اقبال کې راغلې ده ووايي: يا باطناً في ظُهُورِه، وَيا ظاهراً في بُطُونه وَيا باطناً لَيْسَ يَخْفى، وَيا ظاهراً لَيْسَ يُرى، يا مَوْصُوفاً لا يَبْلُغُ بِكَيْنُونَيَةِ مَوْصُوفٌ وَلا حَدٌّ مَحْدُودٌ، وَيا غائباً غَيْرَ مَفْقُود، وَيا شاهداً غَيْرَ مَشْهُود، يُطْلَبُ فَيُصابُ، وَلَمْ يَخْلُ مِنْهُ السّماواتُ وَالاَرْضِ وَمابَيْنَهُما طَرْفَةَ عَيْن، لا يُدْرَكُ بِكَيْف وَلا يُؤَيَّنُ بِاَيْن وَلا بِحَيْث، اَنْتَ نُورُ النُّورِ وَرَبُّ الاَرْبابِ، اَحَطْتَ بِجَميعِ الاُْمُورِ، سُبْحانَ مَنْ لَيْسَ كَمِثْلِه شَيْءٌ وَهُوَ السَّميعُ الْبَصيرُ، سُبْحانَ مَنْ هُوَ هكَذا وَلا هكَذا غَيْرُهُ. ثُمَّ تدعو بما تشاء(۲٤).

**اتم:** دا چې د شپې په اخره کې دې يو بل غسل وکړي پر هغه غسل سربېره چې د شپې په اوله کې يې کړی و، او پوه شه چې په دې شپې کې د لامبلو، او د هغې د روښولو او د امام حسين د زيارت او

---

(۲۳) اقبال الأعمال ۱: ۲۸ باب ۲۷ عن الإمام الصادق×.

(۲٤) اقبال الأعمال ۱: ۳۸۲ باب ۲۷.

د سل رکعته لمونځ ډیر زیات ثواب دی او په حدیثونو کې پرې تاکید شوی دی.(٢٥).

شیخ په تهذیب کې له ابي بصیر نه روایتوي چې امام صادق علیه السلام وفرمایل: لمونځ وکړه په هغه شپه کې چې امید دی د قدر شپه وي سل رکعته په هر رکعت کې لس ځله قل هوالله ووایه، وایي چې ما ورته وویل: له تا زار شم که مونږ دغه لمونځ په ولاړه ونه کړی شو ؟ وې ویل په ناستې یې وکړئ.ومې ویل که بیا یې هم ونه کړی شو وې ویل وې کړه که څه هم په بسترې کې په ملاسته ولې نه وي. (٢٦).

او په کتاب دعائم الاسلام کې راغلې دي چې رسول الله مبارک به د روژې په اخرو لسو شپو کې دعبادت لپاره خپل ځای تیاروه او ملا وستونی به یې کلکاوه او په درې ویشتمه شپه به یې خپله کورنۍ ویښوله او په دغه شپه به یې اوبه په مخ شیندلې چې خوب یې یونسي، او بي بي فاطمې به په دغه شپه د کور وګړي خوب ته نه پریښودل او په کمه ډودۍ به یې معالجه کول یعنې هخول به یې چې د ورځې خوب وکړي چې د شپې پرې خوب غالب نه شي. او ویل به یې بې برخې دی هغه کس چې د دغه شپې له ښیګړو محرومه شو(٢٧).

---

(٢٥) اقبال الأعمال ١: ٣٧٥ باب ٢٧.

(٢٦) تهذیب الأحکام ٣: ٦٤ ح٢١٦.

(٢٧) دعائم الإسلام ١: ٢٨٣.

او روایت دی چې امام صادق علیه السلام ناروغ و، نو امر یې وکړ نو جومات ته لاړ او په جمات کې و تر دې چې د روژې د درې ویشتمې شپه سبا شوه [٢٨].

علامه مجلسی وايي: ضروری ده چې په دې میاشته کې څومره قرآن چې لوستلی شي وې لولې، او د صحیفه سجادیې د عاګانې ولولې په تیره بیا مکارم الاخلاق دعا او د توبې دعا، او ښه ده چې د قدر دشپو حرمت وساتې او پکې په عبادت او دقران مجید په تلاوت او دعا بوخت شي په معتبرو روایتونو کې راغلې دي چې د قدر ورځې هم دهغې د شپو په شان دي. [٢٩].

بیا دې دا دعا ولولې: يا رَبَّ لَيْلَةِ الْقَدْرِ وَجاعِلَها خَيْراً مِنْ اَلْفِ شَهْر، وَرَبَّ اللَّيْلِ والنَّهارِ، وَالْجِبالِ والْبِحارِ، والظُّلَمِ وَالاَنْوارِ، وَالاَرْضِ وَالسَّماء، يا بارِئُ يا مُصَوِّرُ، يا حَنّانُ يا مَنّانُ، يا اَللهُ يا رَحْمنُ، يا اَللهُ يا بَديعُ، يا اَللهُ يا اَللهُ يا اَللهُ، لَكَ الاَسْماءُ الْحُسْنى، وَالاَمْثالُ الْعُلْيا، وَالْكِبْرِياءُ وَالآلاءُ، اَسْاَلُكَ اَنْ تُصَلِّيَ عَلى مُحَمَّد وَآلِ مُحَمَّد، وَاَنْ تَجْعَلَ اسْمي في هذِهِ اللَّيْلَةِ فِي السُّعَداءِ، وَرُوحي مَعَ الشُّهَداءِ وَاِحْساني في عِلِّيّينَ، وَاِساءَتي مَغْفُورَةً، وَاَنْ تَهَبَ لي يَقيناً تُباشِرُ بِهِ قَلْبي وَإِيماناً يُذْهِبُ الشَّكَّ عَنّي، وَتُرْضِيَني بِما قَسَمْتَ لي، وَآتِنا فِي الدُّنْيا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً،

---

(٢٨) اقبال الأعمال ١: ٣٨٦ باب ٢٧.

(٢٩) زاد المعاد: ١٩٠.

وَقنا عَذابَ النّارِ الْحَريقِ، وَارْزُقْني فيها ذكْرَكَ وَشُكْرَكَ وَالرَّغْبَةَ الَيْكَ وَالإنابَةَ والتَّوبَةَ والتَّوْفيقَ لِما وَفَّقْتَ لَهُ مُحمَّداً وَآلَ مُحَمَّد [٣٠].

## (د قدر په شپو کې د امام حسين عليه السلام زيارت)

پوه شه چې د روژې په مياشته په تيره بيا د لومړۍ شپه، په مينځنۍ شپه او په اخره شپه او په تيره بيا د قدر په شپو کې د امام حسين د زيارت ډير ثواب ا و فضيلت ذکر شوی دی او له امام حمد تقتی عليه السلامه روايت دی چې وې ويل: چا چې د روژې په درې ويشتمه شپه د امام حسين زيارت وکړ چې په زيات احتمال سره د قدر شپه ده او په دغه شپه د خدای ټول اوامره راځي، چې روح او څلورويشت زره پرښتې او او نبي ټول د خدای په اذن د امام حسين عليه اسلام زيارت ته راځي. [٣١]،

اوپه يو بل معتبر حديث کې له امام صادق عليه السلام څخه راغلې دي چې کله د قدر شپه وي او د عرش له بطنونو له اوم اسمانه يو منادي غږ کوي چې: خدای تعالی عز و جل وبخښه هغه کس چې د ا مام حسين د قبر زيارت وکړي [٣٢]

او په يو بل روايت کې راغلې دي چې څوک د قدر په شپه د امام حسين زيارت ته لاړ شي او هلته دوه رکعته لمونځ و کړي او يا يې

---

(٣٠) مصباح المتهجد: ٦٢٩.

(٣١) اواقبال الأعمال ١: ٣٨٣ باب ٢٧.

(٣٢) اقبال الأعمال ١: ٣٨٤ باب ٢٧.

چې څومره په نصیب شي او له خدایه جنت وغواړي او له دوزخ پناه وغواړي[۳۳]، خدای به هغه څه چې غواړي یې ورکړي او له هغه څه به یې وساتي چې ساتنه ترې غواړي.

او ابن قولویه له امام صادق علیه السلامه نقل کړې ده چا چې د روژې په میاشته کې د امام حسین زیارت وکړ او په لاره کې مړ شو له هغه سره به حساب نه کیږي او ورته به ویل کیږي جنت ته داخل شه په امن سره [۳٤]،

او دا چې په کومو الفاظو سره د امام حسین زیارت وکړی شي شیخ او مفید او محمد بن المشهدی او ابن طاووس او شهید د زیارت په کتابونو کې راوړې او له دغه شپې او له عیدینو یعني وړوکي او لوی اختر سره یې مخصوص کړې دي او شیخ محمد ابن المشهدی په معتبرو اسنادو سره له امله صادق علیه السلام نقل کړې ده چې وې ویل: کله چې ته د زیارت اراده وکړې نو نو له لامبلو او د صفا جامو له اغوستلو ورسته د هغه حضرت قبر ته ورشه او کله یې چې په قبر ودریدې نو مخه هغه ته واوړوه او قبله دې د دوو اوږو تر مینځ وګرځوه او ووایه: اَلسَّلامُ عَلَيْكَ يَا بْنَ رَسُولِ الله، اَلسَّلامُ عَلَيْكَ يَا بْنَ اَميرِ الْمُؤْمنينَ، اَلسَّلامُ عَلَيْكَ يَا بْنَ الصِّديقَة الطّاهرَة فاطمَةَ سَيِّدَة نساء الْعالَمينَ، اَلسّلامُ عَلَيْكَ يا مَوْلايَ اَبا عَبْدِاللهِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكاتُهُ، اَشْهَدُ

---

(۳۳) اقبال الأعمال ۱: ۳۸٤ باب ۲۷.

(۳٤) کامل الزیارات: ٥٤٦ ح ۸ باب ۱۰۸.

اَنَّكَ قَدْ اَقَمْتَ الصَّلاةَ وَآتَيْتَ الزَّكاةَ وَاَمَرْتَ بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَيْتَ عَنِ الْمُنْكَرِ، وَتَلَوْتَ الْكِتابَ حَقَّ تِلاوَتِه وَجاهَدْتَ فِي اللهِ حَقَّ جِهادِه وَصَبَرْتَ عَلَى الْاَذى فِي جَنْبِه مُحْتَسِباً حَتّى اَتاكَ الْيَقِينُ، اَشْهَدُ اَنَّ الَّذِينَ خالَفُوكَ وَحارَبُوكَ وَالَّذِينَ خَذَلُوكَ وَالَّذِينَ قَتَلُوكَ مَلْعُونُونَ عَلى لِسانِ النَّبِيِّ الاُمِّيِّ وَقَدْ خابَ مَنِ افْتَرى، لَعَنَ اللهُ الظّالِمِينَ لَكُمْ مِنَ الاَوَّلِينَ وَالآخِرِينَ وَضاعَفَ عَلَيْهِمُ الْعَذابَ الْاَلِيمَ، اَتَيْتُكَ يا مَوْلايَ يا بْنَ رَسُولِ اللهِ زائِراً عارِفاً بِحَقِّكَ مُوالِياً لِاَوْلِيائِكَ مُعادِياً لِاَعْدائِكَ، مُسْتَبْصِراً بِالْهُدَى الَّذِي أَنْتَ عَلَيْهِ، عارِفاً بِضَلالَةِ مَنْ خالَفَكَ، فَاشْفَعْ لِي عِنْدَ رَبِّكَ.

بیا قبر ښکل کړه په قبر خپل مخ کیږده  بیا د قبر سر لور ته لاړ شه او ووایه: اَلسَّلامُ عَلَيْكَ يا حُجَّةَ اللهِ فِي اَرْضِه وَسَمائِه، صَلَّى اللهُ عَلى رُوحِكَ الطَّيِّبِ وَجَسَدِكَ الطّاهِرِ، وَعَلَيْكَ السَّلامُ يا مَوْلايَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكاتُهُ.

بیا قبل ښکل کړه او خپل مخ پرې کیږده او بیا یې د سر طرف ته کوږ شه او او دوه رکعته د زیارت لمونځ وکړه او بیا چې دې څومره له وسه کیږي لمونځ و کړه بیا یې د پښو لور ته لاړ شه او د علی ابن الحسین زیارت وکړه او ووایه: اَلسّلامُ عَلَيْكَ يا مَوْلايَ وَابْنَ مَوْلايَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكاتُهُ، لَعَنَ اللهُ مَنْ ظَلَمَكَ، وَلَعَنَ اللهُ مَنْ قَتَلَكَ، وَضاعَفَ عَلَيْهِمُ الْعَذابَ الاَلِيمَ، بیا خپل حاجت وغواړه بیا د نورو شهیدانو زیارت وکړه د پښو له لورې د قبلې اړخ ته تاو شه او ووایه: اَلسّلامُ عَلَيْكُمْ اَيُّهَا الصِّدِّيقُونَ، اَلسّلامُ عَلَيْكُمْ اَيُّهَا الشُّهَداءُ الصّابِرُونَ، اَشْهَدُ اَنَّكُمْ جاهَدْتُمْ فِي سَبِيلِ اللهِ وَصَبَرْتُمْ عَلَى الْاَذى فِي جَنْبِ اللهِ،

وَنَصَحْتُمْ لله وَلِرَسُوله حَتّى اَتاكُمُ الْيَقينُ، اَشْهَدُ اَنَّكُمْ اَحْياءٌ عِنْدَ رَبِّكُمْ تُرْزَقُونَ، فَجَزاكُمُ اللهُ عَنِ الإِسْلامِ وَاَهْلِهِ اَفْضَلَ جَزاءِ الْمُحْسِنينَ، وَجَمَعَ بَيْنَنا وَبَيْنَكُمْ فِي مَحَلِّ النَّعيمِ.

بيا د عباس ابن امير الومنين زيارت ته لاړ شه او کله چې ورسيدلې نو ووايه: اَلسَّلامُ عَلَيْكَ يا بْنَ أميرِ الْمُؤْمنينَ، اَلسَّلامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا الْعَبْدُ الصّالِحُ الْمُطيعُ لله وَلِرَسُوله، اَشْهَدُ اَنَّكَ قَدْ جاهَدْتَ وَنَصَحْتَ وَصَبَرْتَ حَتّى اَتاكَ الْيَقينُ، لَعَنَ اللهُ الظّالِمينَ لَكُمْ مِنَ الأَوَّلينَ وَالآخِرينَ وَاَلْحَقَهُمْ بِدَرْكِ الْجَحيمِ،

بيا يې په جومات کې چې څومره دې وس وي لمونځ وکړه او راستون شه [٣٥].

(٣٥) المزار الكبير: ٤١٤ ـ ٤١٦، بحار الأنوار: ٣٥٠ ـ ٣٥١.